سلطان جان کلیوال ۲۰۲۱/۰۹/۱۸

# پاکستان ولی د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژنې؟

دا یوه ساده او وړه پوښتنه ښکاری خو تر شا یی ماته یو ستره مرموزه لوبه نظر ته راځی هیله ده چی زما حدس او گمان همداسی گمان پاتی شی او حقیقت ونه لری.

په لومړی دوَر کی چی طالبان د هیواد په نظامی ډگر کی را څرگند شول او په پرله پسی توگه یی د هیواد له ډیرو سیمو نه د جهاد تر نامه لاندی خپلواک او کل اختیاره واکمنان او قومانداناں یو په بل پسی مات کړل ، د قدرت وړې وړې جزیرې یی له منځه یوړلی او یواځی د هیواد په شمال کی د قوماندان احمدشاه مسعود او د ازبک ملیشو مشر رشید دوستم قوتونو په نیم ژوندی توگه مقاومت کاوه او طالبان لا په دی نه وو بریالی شوی چی د هیواد توله جغرافیه لکه د نن په څیر د خپل تسلط لاندی راولی، خوبیا هم پاکستان اولین دولت و چی د طالبانو حکومت یی په رسمیت و پیژانده او سیاسی مناسبات یی ور سره قایم کړل. په ننیو حالاتو د پرون پرتله د طالبانو تسلط او حکمرانی زیاته پراختیا لری او ټول مملکت باندی قایمه شویده، حتی تر دی چی د دویم مقاومت په نوم د را پورته شوو قوتونو مرکز چی د پنجشیر ولایت و، هم د خپل تسلط لاندی راوستی، حکومتی تشکیل یی هم د ځینو شبکو د راپورونو له مخی د پاکستان د (آی،اس،آی) د اداری د مشر تر کنترول لاندی جوړ کړی او اعلان کړیدی، د ملگرو ملتو اداری هم ورته د بشری مرستو د رسولو د پاره د ژنیو په غونډه کی د (۱،۲) ملیارده ډالرو نژدی د (۹۰) هیوادونو ژمنی هم تر د لاسه کړی او د چین او روس او قطر هیوادونو هم ورته شنه څراغونه ښکاره کړیدي. نو پوښتنه پیدا کیږی چی پاکستان ولی د دوی د حکومت په رسمیت پیژندلو ته تر اوسه زړه نه ښه کوی؟

ممکن دا به څه داسی خاص علتونه ولری چی زه یی شخصاً اټکل نه شم کولای، خو ماته د دی په رسمیت نه پیژندلو تر شا دوه علته ښکاری:

اول داچی ممکن پاکستان به د امریکا راتلونکو هغو پلانونه ته منتظر وی چی په افغانستان کی یی د طالبانو د حاکمیت د شرنوشت په هکله نیسی. امریکا، انگلستان او آسترالیا همدا اوس غواړی چی نوی نظامی تړون را منځ ته کړی او په اغلب گمان به دا نوی نظامی تړون د ټولو نه دمخه د افغانستان د راتلونکی برخ لیک په ټاکلو فوکس کوی او پاکستان به تر هغی منتظر وی چی د دی دری هیوادونو د نظامی تړون د جوړیدو نه وروسته، د دوی په پالیسی و پوهیږی.

دویم داچی ممکن پاکستان به داسی فکر کوی چی په افغانستان کی د طالبانو تر تسلط وروسته دا هیواد تر ډیره حده د دوی د هیواد پنځمه غیر رسمی صوبه ده او لکه څنگه چی د پښتونستان او بلوچستان سیمی د آزادو قبایلو په توگه د دوی د کنترول لاندی دې، تر دی وروسته به افغانستان هم د دوی له خوا اداره او رهنمایی کیږی، چی د موجودی حکومتی کابینی جوړول او د پاکستان د مالیی د وزیر وروستی څرگندونی په دی مفهوم چی ( که د افغانستان نه مسلکی او فنی کدرونه نورو هیوادونو ته ځی او وطن پریږدی، کومه د تشویش خبره نه ده، پاکستان به دا خالیگاه د خپلو متخصیصینو په ذریعه ډکه کاندی او طالبان به په دی برخه کی ستونزی ونه لری)

داسی خبرو ته په کتو سړی ته دا فکر پیدا کیږی چی د پاکستان چارواکی افغانستان خپل ملک گڼی او د خپل ملک د کومی صوبی د په رسمیت پیژندلو ته کومه اړتیا نه لیدله کیږی.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید: info@arianafghanistan.com

یادونه : (لکه چی مخکی می و ویل، دا زما شخصی اندیښنه وه چی د دوستانو سره می شریکه کړه، په دی هکله می د هیڅ کومی بلی سرچینی نه ، څه نه دی اوریدلی. هیله ده چی زما دا اندیښنه کاملاً بی اساسه او ناسمه وی او پاکستانی چارواکو افغان ملت تر اوسه پوره پیژندلی وی.) پای



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید